# د خپل ادب جائزه

دوست محمد خان کامل مومند




د يو قام د ادب د لويوالي مدار په دوه ځيزه معيار او مقدار دے. دا دوه ځيزه به مونږ د ادب د لويوالي يا وړکوټوالي د فېصلې دپاره د ادب په دوو لويو ټوکونو نظم او نثر کښې لټوو چې هر يو ټوک ځانله څو برخې لري. اوس کۀ په دې توګه مونږ خپل ادب وځيرو نو پښتو ادب ته لوئے ادب وئيلے شو، کۀ نۀ؟ کۀ په تېره کښې مونږ د خپل ادب پلټنه (لټون) وکړو نو تر څو چې د نظم تعلق دے نو د معيار له پلوه خو زمونږ په شعري ادب کښې داسې ښۀ ښۀ ځيزونه شته چې مونږ ئې د دنيا د لوئے نه لوئے ادب ته مخامخ کولے شو. زمونږ په ادب کښې چې تر اوسه د ټولو نه لرغونے ځيز موندلے شوے دے، هغه د امير کروړ غوري (چې د منهاج سراج په طبقات ناصري جلد **1** کښې د امير فولاد په نوم ذکر شوے دے) يو نظم دے چې د نن نه دولس نيمو سوو کالو ته نږدې دے. د دې نظم نه پس د لرغونوالي له پلوه د بيټ نيکۀ، د ملکيار غرشين او ښکارندوے نظمونه پېش کېدے شي. دغه نظمونه کم و زيات اتۀ سوه کاله زاړۀ دي. د امير کروړ نظم د ځان د هسکوالي په ستائنه کښې دے، د بيټ نيکۀ نظم د خدائے تعالىٰ ستائنه او له هغۀ غوښتنه ده، د ملکيار غرشين او ښکارندوے چې دواړه د هندوستان د فاتح او پکښې د اسلامي سلطنت باني پښتون بادشاه سلطان شهاب الدين غوري هم عصر او ملګري وو. نظمونه د سلطان په ستائنه او د غزا په جوش کښې وئيلي شوي دي. په دې ټولو نظمونو کښې په هغو خوبيو کښې ډېرې شته دے، کومې چې د ډېر ښۀ ادب دپاره ضروري دي.

د مُغلو د دور نه وړومبے زمونږ په ادب کښې لويې لويې وقفې دي. په مُغلي دور کښې زمونږ او زمونږ د ادب تاريخ مسلسل شي او هم په دې دور کښې زمونږ ځنې لوئے شاعران لکه مرزا خان انصاري، دولت لواڼے، د پښتون قام لوئے مشر

خوشحال خان خټک، خواجه محمد بنګش، حضرت عبدالرحمان مومند، اشرف خان هجري خټک، عبدالقادر خان خټک، سکندر خان خټک (چې وروستي دري د خوشحال خان زامن دي)، عبدالحمید مومند او د هغوي نمسے کاظم خان شېدا د افضل خان زوے تېر شوي دي. په دوي کښې د خوشحال بابا، رحمان بابا، عبدالقادر خان او عبدالحمید دیوانونه چاپ شوي دي او د مرزا، دولت، هجري او کاظم خان شېدا لږ ډېر چوڼ کلام او د سکندرخان یو نظم چاپ دے او هیله لرو چې د سکندر خان دیوان زر چاپ شي. د دې ټولو شاعرانو کلام د ډېرې اوچتې پائې او د ویاړ وړ دے.

خوشحال بابا او رحمان بابا خو نۀ یواځې د پښتو د ټولو نه لوئے شاعران دي بلکې د دوي شمېر خو د نړۍ په چوڼ شوو لویو شاعرانو کښې کېدل پکار دي. اګر کۀ رحمان بابا لکه د هغۀ د هسکوالي چې وړ دے لا هغسې نۀ دے پېژندلے شوے خو د خوشحال بابا شمېر خو د پښتونخوا نه علاوه د دنیا په لویو شاعرانو کښې کېدل شروع شوي دي. خوشحال بابا دخپل ضخیم دیوان نه علاوه مونږ ته د نظم یو څو نور کتابونه لکه مثنوي، فضل نامه (فقه او دینیات)، مثنوي بازنامه (د باز او ښکار بحث)، فراق نامه (حبسیات مثنوي او غزلې) او سوات نامه (د سوات د سفر او اهم جغرافیائي، تاریخي، معاشي حالات او تبصرې) پرېښې دي. عبدالقادر خان د دیوان نه علاوه د یوسف زلېخا جامي(رح) پښتو ترجمه هم مونږ ته پرېښې ده او د آدم خان درخانۍ رومان ئې هم لیکلے دے. حمید بابا علاوه له دیوانه مونږ ته قصه شاه و ګدا او د مثنوي نیرنګ عشق ترجمه هم پرېښې ده. دې پورته یادو شویو کتابونو کښې په ډېره نزدې تېره کښې فضل نامه مکمله چاپ شوې ده. د فراق نامې د څو مثنویو څو چوڼ اشعار او هم دغسې د سوات نامې څو انتخابات د دې تورو د لیکونکي په اردو کتاب "خوشحال خان خټک" کښې چاپ شوي دي. د عبدالقادر د یوسف زلېخا انتخاب ډېره موده کېږي چې د مېجر راورټي په ګلشن روه کښې چاپ شوے دے. د حمید دوه نور پورته لیکلي کتابونه هم چاپ دي خو عام نۀ موندے کېږي.




د مُغلوالي نه پس په پښتونواله کښې زمونږ ستر او د یاده وتي شاعران د پښتنو ملي قائد غازي احمدشاه ابدالي، پیر محمد کاکړ، عبدالرحیم هوتک، حافظ د الپورۍ او علي خان اشنغرے تېر شوي دي. د پیرمحمد، حافظ او علي خان دیوانونه او د دې دوو نورو شاعرانو چوڼ کلام چاپ شوے دے.

احمد شاه بابا، پیرمحمد او عبدالرحیم د اوسني افغانستان وو، علي خان د اوسنۍ پښتونخوا او حافظ د سوات ؤ، ګوندې پیرمحمد ځائي د اوسني پاکستان د علاقې ژوب ؤ او بیا

وروستو افغانستان کښې مېشته شوے دے، ځکه چې د کاکړو علاقه خو ژوب ده، د دې دور يو بل شاعر عبدالعظيم رانيزے ؤ چې د دهٔ زمانه په پښتونواله کښې وېشلې ده. دے په اصل کښې د سوات ؤ، خو د پېښور خليلو په برتاکال کښې مېشته شوے ؤ او مړينه ئې هم هلته شوې ده او هم هورې د پلوسۍ په هديره کښې ښخ دے. ديوان ئې چاپ شوے دے.

د سېکوالي نه پس چې پېرنګوالي ته راشو، نو په دې دور کښې هم مونږ ښهٔ ښهٔ شاعران پېدا کړي دي. خصوصاً د خدائي خدمتګارۍ تحريک خو زمونږ د شاعرانو صلاحيتونه ښهٔ ځلولي او ښکاره کړي وو. زمونږ د ادب ولۍ دور د يادولو کسانو کښې مونږ ته خادم محمد اکبر خان، سېد راحت الله خان راحت زاخېلي، عبدالاکبر خان اکبر، اميرحمزه شينوارے، سمندر جان سمندر، عبدالغني خان (لېونے فلسفي)، فضل حق شېدا، ميا سېدرسول رسا، محمد اجمل خان خټک، ولي محمد طوفان او محمد اشرف خان مفتون غوندې د اوچتې پائې شاعران راکړي دي. وخت په وخت خو د دې ټولو د کلام نمونې په بيلو بيلو رسالو او اخبارونو کښې چاپ شوي دي، خو په کتابي شکل کښې د سمندر خان "ليت او لار" چې د هغهٔ د نظمونو او غزلو يوه ټولنه ده. د هغهٔ يوډېر اوږد نظم "د قرآن ژړا" او يو بل وړوکے نظم "د ايلم ځوکه" او د اميرحمزه خان د نعتيه يا روحاني کلام يوه ټولنه "د زړهٔ آواز" د سېد رسول رسا د کلام مجموعه "د بېديا ګلونه" او د محمد اشرف خان مفتون د کلام يوه ټولنه "د شاعر دنيا" او ولي محمد خان طوفان د رباعياتو مجموعه "منجرې" چاپ شوي دي.

> سره د معياري بشپړتيا زمونږ شعري ادب ډېر لږ دے. کهٔ مونږ چرې د خپل شعري ادب د مقدار د نړۍ نورو متمدنو قامونو شعري ادب سره مخامختيا وکړو نو له هغو به ځان ډېر وروستو ووينو.

زمونږ دوه نور د ډېرې لوړې پائې شاعران حبيب الرحمان خان قلندر مومند او سېد سېف الرحمان خان سليم د پاکستان جوړېدو نه پس څرګند شوي دي.

په دې زمانو کښې زمونږ ژبه نور هم ډېر شاعران لري خو دا پورته چې وکښل شول ما د يادولو زيات جوګه وګڼل. په دې زمانو کښې کهٔ چرې زمونږ د شاعرۍ جائزه واخستې شي نو دا به ډېره جامعه بيا موندے شي. د انساني ژوند د مسائلو او د هر قسم د افکارو او جذباتو ترجماني په دې شاعرۍ کښې په ډېره اوچته او ښه طريقه شوې ده. د فارسي شاعرۍ تقريباً ټول اصناف زمونږ په شاعرۍ کښې شته.

د دې علمي شاعرۍ نه علاوه اولسي شعري ادب هم لرو چې مشهور ټوکونه ئې ټپه، چاربېته، نيمکۍ او لوبه وغېره دي. نظم شوي داستانونه هم زمونږ د ادب دې حصه کښې شامل ګڼل پکار دي.

زمونږ د شعري ادب دا برخه هم د حس او فکر له پلوه نشتمنه نۀ ده.

لکه ما چې ووې مونږ په تېرو زمانو او اوسني دور کښې داسې ادب پېدا کړے دے چې د معيار له خوا ډېر اوچت دے او له دې کبله چې انساني ژوند سره تړلې تقريباً ټولې خبرې او د انساني فکر او خيال، جذبې، حس او وجدان نۀ پېدا کېدونکي ټول مضامين پکښې په ښۀ ډول موجود دي، خورا بشپړ شعري ادب دے. خو د مقدار له خوا زمونږ دغه معياري شعري ادب بيا هم ډېر لږ دے، هغه خيالات او افکار او جذبات او احساسات چې مونږ ته په خپل شعري ادب کښې ښکاري، کۀ د دې پائې نورو کسانو څومره چې زمونږ شاعران تېر شوي دي لا زياتو کسانو په شعر کښې ښکاره کړي وے نو په دوي کښې به د ډېرو کسانو په اشعارو کښې هم دغه مضامين په نوي نوي، جدا جدا ډول، شان، ښکلا او ښائست ښکاره شوي وو نو ما دا وې چې سره د معياري بشپړتيا زمونږ شعري ادب ډېر لږ دے. کۀ مونږ چرې د خپل شعري ادب د مقدار د نړۍ نورو متمدنو قامونو شعري ادب سره مخامختيا وکړو نو له هغو به ځان ډېر وروستو ووينو.

ځنې داسې ژبې شته چې د هغوي تاريخ زمونږ د ژبې له تاريخه ډېر وروستو شروع کېږي خو د هغوي ادب نۀ صرف د معيار په لحاظ ډېر اوچت دے، بلکې د هغو ژبو ويونکو د خپل معياري ادب مقدار دومره زيات کړے دے چې زمونږ او د هغوي د ادب په دې لحاظ هډو د مقابلې سوال نۀ شي پېدا کېدے. د مثال په توګه اردو، بنګالي، روسي، انګرېزي او جرمني ژبې واخلئ. خوشحال بابا زمونږ ډېر لوئے شاعر، فنکار او مفکر دے او د هغۀ شعري تخليقات دومره زيات او جامع دي چې نۀ يواځې په ډېرو لږو کسانو دومره زيات او رنګارنګ تخليقونه کړي وي او بيا د هغۀ شاعرانه پايه هم دومره اوچته ده لکه چې ووئيل شول، هغه نۀ يواځې د پښتونخوا د ټولو نه لويو دوو شاعرانو کښې يو دے، بلکې د هغۀ شمېر د نړۍ په لويو شاعرانو کښې دے، خو خفګان دې نۀ وي د خوشحال بابا نه وروسته،د هغۀ په زمانه کښې او د هغۀ نه پس د هغۀ په شان څوکسان مونږ پېدا کړي دي.




رحمان بابا خپل رنګ کښې هم دومره لوئے دے لکه چې خوشحال بابا، خو له بده مرغه د هغۀ ادبي تخليقونه يا خو ډېر لږ او محدود دي او يا ورک شوي دي او بيا د رحمان بابا د پائې نور څو شاعران د هغۀ يا په بل رنګ کښې مونږ پېش کړے شو.

د خپل شعري ادب په حقله د دې وړې لنډې وېنا نه پس د خپل نثري ادب په باب کښې به هم څو خبرې وکړم. تر اوسه زمونږ د څېړنو له رويه زمونږ د نثري ادب تاريخ تقريباً شپږ سوه کاله وړاندې د سلېمان ماکو د نثر نه شروع کېږي چې د هغۀ تذکرة الاولياء يو څو پاڼې مونږ ته پاتې دي. بيا يوه ډېره لويه واقعه ده او شپاړسمې عيسوي صدۍ کښې

بایزید اُرمړ انصاري (چې څوک ورته پیرروښان او څوک ورته پیر تاریک وائي) او اخون درویزه زموږ نثري ادب بیا روانوي. د بایزید اُرمړ د عقائدو کتاب خیرالبیان نه علاوه د عربۍ، فارسۍ او هندۍ نه پښتو کښې هم لیکلے شوے یادیږي. اخون درویزه د بایزید اُرمړ د عقائدو برخلاف په نثر کښې کتابونه لیکلي دي چې ډېر مشهور پکښې مخزن الاسلام دے، څو کتابونه ئې نور هم لیکلي دي چې مذهب، تاریخ او انسانیت سره تعلق لري. د دې دور نثر مکمل نثر نۀ دے، بلکې کومې نمونې ئې چې موږ ته پاتې دي هغه د منثور نظم یا منظوم نثر کېدو مستحقې دي. دا دواړه ادیبان د مُغل اکبر بادشاه هم عصر وو. اخوند درویزه د جهانګیر بادشاه د حکومت څۀ زمانه هم درلودې وه. مخزن چاپ دے خو موندلے نۀ شي، د مخزن انتخاب هم د میجر راورټي په ګلشن روه کښې شته. د بایزید د نثر صرف دوه درې کرښې د نمونې په توګه یو څو چاپي کتابونو کښې درج دي. اګرکۀ د بابوجان لغماني او د هغۀ دکتاب فوائد الشرعیه د تالیف زمانه نۀ ده معلومه خو د هغۀ نثر هم د دې ډول دے چې انتخاب ئې د میجر راورټي په ګلشن روه کښې شته.

موږ ته چې د خپل مکمل نثر کومې نمونې معلومې دي، هغه د خوشحال بابا دستار نامه او د هغۀ بیاض دے. وړومبے کتاب د بابا د بیلو مضامینو ټولنه ده او بیاض کښې د بابا خپل او خانداني تاریخي حالات دي. زموږ بل د نثر اهم کتاب د ګلستان سعدي(رح) پښتو ترجمه ده چې عبدالقادر خان خټک کړې ده، په دې کتاب کښې د ګلستان د نثر په نثر او نظم په نظم کښې ترجمه شوې ده. بل د نثر اوچت کتاب د انوار سهیلي ترجمه عیار دانش ده چې د هجري زوي افضل خان کړې ده او ځینې خلقو په غلطۍ د خوشحال بابا ګڼلې ده. د افضل خان د ټولو نه لویه کارنامه د تاریخ مرصع تالیف دے چې په نثر کښې د پښتنو یو ډېر مفصل او ضخیم تاریخ دے. موږ دا کتاب په دریو برخو کښې تقسیمولے شو چې وړومبۍ برخه ئې د نعمت الله هروي د فارسي مخزن افغاني وړومبۍ برخې ترجمه ده.

په دې کتابونه کښې لږه موده وشوه چې فضل نامې سره دستارنامه هم چاپ شوې ده. د ګلستان او انوار سهیلي د ترجمو انتخابونه د میجر راورټي په ګلشن روه کښې شته او د تاریخ مرصع څو پاڼې هم په ګلشن روه او د پادري هیوز په کلید افغاني کښې شاملې دي. له بیاضه اقتباسات د دستارنامې د څو چونړ شوو ځایونو سره په اردو کتاب خوشحال خان خټک کښې شته، د دې ټولو کتابونو نثر ته موږ معیاري نثر وئیلے شو چې د خوشحال بابا او عبدالقادر خان نثر پکښې جوت شان لري.

هم د دې وخت په خواؤشا کښې چې د خوشحال خان کورنۍ د پښتو ادب لمن له رنګارنګ قیمتي



مرغلرو ډکوي، په اوسني افغانستان کښې يو سړے محمد هوتک نومې د لوئے پښتون مشر ميرويس هوتک زوي شاه حسين هوتک په سر پرستۍ کښې د "پټه خزانه" په نوم د پښتو د شاعرانو تذکره ليکې، چې د ځنو ښځو شاعرو حالات هم پکښې شته، د دې کتاب نثر هم مکمل دے، دا کتاب مؤلف په جمادي الثاني کال ۱۱۴۱ هـ کښې شروع کړے او شوال کال ۱۱۴۲ هـ کښې ئې خلاص کړے ؤ. دا کتاب څو کلونه کېږي د ښاغلي عبدالحئ حبيبي د فارسي ترجمې، څنډو (حاشيې) او تعليقاتو سره په کابل کښې چاپ شوے ؤ، دا ټول ادبي آثار چې پورته ياد کړے شول د اوچتې پائې او معياري دي.

د خوشحال بابا د نمسي افضل خان او محمد هوتک نه پس زمونږ نثري ادب په ځائے ودرېږي، د پېرنګوالۍ پورې مونږ ته په نثر کښې څۀ نۀ ښکاري. په پېرنګواله کښې د خدائي خدمتګارۍ تحريک چې کوم ځائے زمونږ شعري ادب خوندي او وړاندې کړے دے، هلته ئې علاوه د "پښتون" رسالې د اجراء د نور ښۀ نثري ادب د پيدا کولو دپاره هم زمکه تياره کړې وه چې ښۀ حاصلات ترې واخستے شول، خو افسوس دے چې په نثر کښې اوس هم زمونږ ادب د نيشت برابر دے. د سيد راحت زاخېلي، عبدالاکبر خان اکبر، قاضي عطاءالله خان مومند، عبدالغني (لېونے فلسفي)، عبدالخالق خان خليق، مولانا عبدالمجيد سعدي مرحوم، فضل حق شيدا، ماسټر عبدالکريم، عبدالکريم مظلوم مرحوم، صنوبر حسين خان مومند، حافظ محمد ادريس خان، حبيب الرحمان قلندر او په افغانستان کښې حبيبي، عبدالروف خان بېنوا، صديق الله خان رشتين، ګل باچاخان الفت او داسې يو څو نور اديبان د ګوتو د شمار دي. اګر کۀ دوي څۀ چې ليکلي دي، اکثر په معيار برابر دي خو چې څۀ ئې ليکلي دي ډېر لږ دي.

پښتو ادب کښې د نثر د ځنو ټوکونو لکه ناول، افسانه، مضمون (اګر کۀ معياري مقالې هم زمونږ په ادب کښې ډېرې زياتې نۀ دي خو زما مراد ترې د ادب هغه صنف دے چې انګرېزي کښې ورته اِسے Essay وائي) ډرامه، رپور تاژ وغېره کښې خو ډېر زيات کمے دے. هم دغسې سېوا د دينياتو او فقهې، تاريخ او علم ادب زمونږ په ژبه کښې د ډېرو اهمو علمونو او فنونو لکه طب، فلسفه، منطق، نفسيات، تعليم، رياضي، طبيعيات، کيميا، حيوانيات، نباتات، هيئت، جغرافيه، اقتصاديات، سياست، ښهريت، زراعت، موسيقي، مصوري، ښکار، لوبې، ورزش او داسې د نورو ډېرو علمونو او فنونو په حقله کتابونه نشته. د خوشحال بابا کتاب دستار نامه يوه داسې استثنئ ده چې په وړو وړو مضمونونو کښې ئې په دوي کښې د ځنو علمونو پلوشې مونږ ته ښکاري.

د هغې دور چې په پښتونخوا کښې له پېرنګوالي شروع کېږي د پښتو چاپ اهم نثري آثار دا دي:

د قرآن شريف ترجمه سره د څنډو د خليلو د درمنګي کلي د مولانا عبدالحق خان مرحوم ده. کشاف الکتاب يعنې د کلام پاک (وړومبۍ پاره) ترجمه او تفسير له حافظ ادريس خان، د کلام پاک د وړومبيو اوؤ پارو ترجمه سره د څنډو له فضل

ودودخان خليل د برتاکال، د مولانا شبلي مرحوم د سيرة النبي صلي الله عليه وسلم جلد **1** ترجمه له عبدالکريم خان مظلوم مرحوم، د پير بخش خان اېډوکېټ پېښور ليکلې سوانح عمري د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم "زمونږ محمد نبي صلى الله عليه وسلم" په سيرت د خانمير هلالي کتاب "زمونږ ښکلے رسول" صلي الله عليه وسلم، د مولانا شبلي مرحوم د "الفاروق" ترجمه له غلام قادر خان، تاريخ اسلام له مولوي صاحب ګل خان، د تاريخ فرشته ترجمه له مولوي عبدالغفور خان مرحوم قاسمي، "د پښتنو تاريخ" دوه جلده له قاضي عطاءالله خان مرحوم، دکرنل مېلسن د تاريخ افغانستان ترجمه له خان بهادر منشي احمد جان مرحوم، د راحت زاخېلي افسانې "کونډه جينۍ" او "شلېدلي پڼه" او د هغهٔ کتاب په پښتو "صرف نحو" پښتانهٔ شعراء وړومبے ټوک له حبيبي، دوېم له رښتين، درېم ئې ښاغلي بېنوا ليکلے ؤ خو لا زمونږ تر نظره نهٔ دے تېر. د عبدالحئ حبيبي د "پښتانهٔ شعراء وړومبے ټوک" خلاصه د کوزي پښتونخوا په محاوره او لهجه اجمل خټک، د پښتو ادبياتو تاريخ له عبدالحئ حبيبي، د دې خلاصه له سيد تقويم الحق


د پښتو شاعران
يعني
د پښتو شاعرانو د ژوند کوتاه حالات، او د خا[illegible]ي
د
منشي احمد جان د پېښور

خان کاکاخېل، د رښتين "د پښتو ادب تاريخ" د الفت "د پښتو سندرې"، "پښتنې مېرمنې" او "ميرويس نيکهٔ" له بېنوا، "پښتو آريانا" (د پښتو پوهينګره يا انسائکلوپېډيا" څو پوهانو چې رښتين هم پکښې شامل دے ليکلې ده. د "پښتو آريانا" دوه ټوکه زما له نظره تېر شوي دي، د سيد جمال الدين افغاني حالات او خيالات له فضل حق شيدا، د خليق صاحب ډرامې "شهيده سکينه" او "خوږ ژوندون" د محمد اسلم خټک اصلاحي ډرامه "د وينو جام" (د قتل متعلق) هغه مضامين له دې کتابونو علاوه دي چې وخت په وخت په اخبارونو يا رسالو کښې راوتي دي. نن سبا د پېښور صوبه پښتونخوا نه د پښتو يوه مياشتنۍ مجله "اسلم" وځي چې اولسي رساله ده، يوه مياشتنۍ رساله" د جمهوريت غږ" له کوئټې (بلوچستان) او يوه بله پنځهٔ لسيزه "جمهور اسلام" له پېښوره وځي.

د پېښور په ورځپاڼو اخبارونو "شهباز" او "ترجمان افغان" او اووهٔ ورځني اخبارونو "جمهوريت"، "انصاف"، "رهبر"، "مظلوم دنيا" او "نوائے ملت" مردان کښې هم د پښتو برخې دي.

کهٔ مونږ انصاف وکړو نو زمونږ د ادب لويه او اهمه برخه هم دغه ده، لکه چې پورته ئې جائزه واخستې شوه نو زمونږ ادب د ځنو ځيزونو له کبله به د معيار له خوا لوئے ادب وي خو په مجموعي حېثيت هېڅرې هم لوئےادب نهٔ دے، خو کهٔ همت ونهٔ بائيلو کهٔ مونږ کښې د لوئے والي ځائے وي نو وخت مونږ نهٔ شي ايسارولے، د بنګالۍ، اردو او روسۍ مثالونه زمونږ په مخکښې دي.

نوټ: ياده دې وي چې د پښتو ادب دا جائزه تر ۱۹۵۲ پورې ده.